# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د کب ۱۹مه | د ۲۰۲۱ د مارچ نهمه | ۶۹۳یمه گڼه


## خېړه

۴ مخ



### ویسلاوا شیمبورسکا

انسان او د انسان د ژوند ښه کېدل د ویسلا لومړیتوب او سره کرښه ده. هغه هڅه کوي چې انسان یې د شاعرۍ او لیکوالۍ محور وي او د انسان او بشري ژوند د ښه کېدو لپاره کار وکړي.

## ټولګټو وزارت: تر راتلونکو دریو میاشتو به ۳٦۰ کیلومتره سړکونه ګټې اخیستنې ته وسپارل شي



د ټولګټو وزارت چارواکي وایي چې تر دریو میاشتو به د څه باندې ۳٦۰ کیلومتره په اوږدوالي څو مهم سړکونه تر بیارغونې وروسته ګټې اخیستنې ته وسپاري.

«په هرو ۱۰۰ ورځو کې یو زېرى» د ټولګټو وزارت هغه پروګرام دى، چې په لړ کې یې په هرو دریو میاشتو کې د بیارغونې یوه پروژه بشپړېږي. د ټولګټو وزارت ویاند خلیل احمد امېد له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، د سړکونو د بیارغونې یادې پروژې په بېلابېلو ولایتونو کې دي.

نوموړي ویلي: «ټولګټو وزارت ۳٦۴ کیلومتره سړک په راتلونکو دریو میاشتو کې ګټې اخیستنې ته سپاري او د کابل د حلقوي سړک کارونه به هم په همدغو دریو میاشتو کې پیل شي.»

د سړکونو د بیارغونې په دغو پروژو کې د ښرنې- انګور اډې سړک، د کندهار- سپین بولدک د سړک یوه برخه، د سپین بولدک- ښورابک سړک، د هرات- بادغیس د سړک یوه برخه او د شبرغان- سرپل سړک شامل دي.

# د امریکا پر طرحه او لیک غبرګونونه؛

## امرالله صالح: موږ ته مو د خلکو حقونه مهم دي، تحمیلي سوله نه شو منلی



۳


چارواکي د امریکا د طرحې پر وړاندې مقاومت کوي؟ ۲ مخ

افغانستان نږدې ۱،۵ میلیارده امریکایي ډالره پوروړی دی ۲ مخ

بیش از چهل درصد معتادان مواد مخدر در افغانستان زنان هستند ۳ مخ


## عبدالله: د هېواد روان ترینګلي حالت خلک له جدي اندېښنو سره مخ کړي

د ملي مصالحې عالي شورا رییس عبدالله عبدالله ویلي، چې د افغانستان ترینګلي امنیتي وضعیت خلک له جدي اندېښنو سره مخ کړي دي.

نوموړي چې پرون یې په کابل کې د مارشال فهیم د اووم تلین په مناسبت جوړې شوې غونډې ته خبرې کولې، وویل، چې کابل هره ورځ د یوې بدې پېښې شاهد وي او خلک له ډېرې وېرې ان خپل ماشومان هم ښوونځیو ته په ارامه نه شي لېږلی. عبدالله د جمهوریت د ملاتړو پر یووالي ټینګار کړی او زیاته کړې یې ده چې افغانان له یوې ډېرې سختې ازموینې سره مخ دي او په دې حساسو شرایطو کې باید له هر ډول تېروتنې ډډه وشي.

نوموړي دغه راز د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن له لوري ور رسېدلي لیک ته په اشارې له ډېرو جزیاتو پرته ویلي، چې په دغه لیک کې داسې واقعیتونه شته، چې سترګې نه شي ورباندې پټېدلی. عبدالله د خپلو خبرو پر دوام څرګنده کړې، چې د افغانستان د راتلونکې په اړه د نورو اقداماتو پرېکړه باید مشران او د افغانستان خلک وکړي.

د یادونې ده چې د بلېنکن لیک ته د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح په ګډون ځینو نورو چارواکو او سیاسیونو هم غبرګون ښودلی، خو عبدالله بیا ورمه ورځ په دې اړه ویلي وو چې له طرحې وېره نه ده په کار، بلکې باید بحث ورباندې وشي او معقوله حل لاره پکې ولټول شي.

## خلیلزاد له پاکستاني چارواکو سره د افغان سولې پر نوې طرحې خبرې کړې



۵ مخ

## مجروح: افغانستان نخستین محموله واکسین کمکی کوواکس دریافت کرد



دومین محموله واکسن کرونا به کابل رسید. این محموله شامل ۴٦۸ هزار دوز واکسین کرونا است و از سوی نهاد هم‌آهنگ کننده واکسین کرونا یا کوواکس به افغانستان کمک شده است.

پیش از این هند، ۵۰۰ هزار دوز واکسن کرونا را به افغانستان کمک کرده بود که در حال تطبیق است. وزارت صحت عامه گفته است که تاکنون ۴۰ هزار تن با آن واکسین شده‌اند.

سرپرست وزارت صحت عامه از نهاد کوواکس و حامیان مالی آن به خصوص اتحادیه اروپا، سازمان صحی جهان و یونیسف بابت این محموله کمکی سپاس گزاری کرد.

وحید مجروح، سرپرست وزارت صحت عامه در مراسم تسلیم‌گیری این محموله در میدان هوایی کابل گفت که افغانستان نخستین کشوری در آسیای میانه است که از طریق نهاد کوواکس اولین محموله واکسین کرونا را دریافت کرده است.

به گفته مجروح، نهاد کوواکس ۱٦ میلیون دوز واکسن کرونا را به دولت افغانستان کمک می کند که به صورت مرتب به کشور وارد خواهد شد. مجروح افزود که تلاش می کند تا ۳۲ میلیون دوز واکسین کرونا را برای ۴۰ درصد جمعیت کشور از طریق بانک جهانی، بانک توسعه آسیایی و دیگر شرکای صحی تهیه کند. سرپرست وزارت صحت عامه توضیح داد که در مرحله دوم قرار است که استادان پوهنتون و مکاتب واکسین شوند تا سیستم آموزشی کشور در سال آینده به گونه عادی به فعالیت ادامه دهد.


Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

# چارواکي د امریکا د طرحې پر وړاندې مقاومت کوي؟

ولسمشر غني ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن له لیک وروسته داسې ښکارېږي چې حکومت د امریکا له بې ساري فشار سره مخ شوی دی. پرون د ولسمشر د لومړي مرستیال امرالله صالح له څرګندونو ښکارېدله، چې دوی له ځومره فشار سره مخ دي. تر ګردو مهم او اساسي فشار دا دی چې دوی باید واک د سولې انتقالي حکومت ته وسپاري، له همدې امله په کابل کې چارواکي تر بل هر وخت ډېر له ناوړه حالت سره مخ شوي دي.

خو چارواکي د امریکایي پرېکړو پر وړاندې مقاومت کوي او کولی یې شي؟

تر اوسه خو داسې ښکاري چې چارواکي نه یوازې د امریکا له وروستیو هلو ځلو ناراضه دي، بلکې هڅه کوي چې پر وړاندې یې نرم مقاومت وکړي او تر یوې اندازې خپلې ګټې خوندي کړي. د دوی دریځ تر ډېره پخوانی دی، خو اوس یو څه بدل شوی؛ ځکه چې پخوا به اشرف غني د واک د پوره کېدو او نوي ولسمشر ته د واک سپارلو خبره کوله، خو اوس وایي چې له وخت مخکې ټاکنو ته هم حاضر دی. دوی اوس غواړي چې لږ تر لږه واکمني یې یو څه وغځېږي او په راتلونکي کې هم ځان ته په واک کې د پاتې کېدو زمینه برابره کړي. د امرالله صالح څرګندونې د همدې مقاومت یوه نښه ده، چې ګواکې دوی حاضر نه دي چې هر څه ومني. که څه هم امرالله صالح د طالبانو د نه منلو خبره کوي، خو په واقعیت کې د امریکا له طرحې سره مخالفت څرګندوي.

ستونزه دا ده چارواکي لا هم باور نه لري چې امریکا به یې یو مخ پرېږدي. دوی فکر کوي چې له امریکا سره د دوی پخوانۍ اړیکې، امریکایانو ته د دوی کړې خدمت او له طالبانو سره د امریکا شل کاله جګړه به د دې سبب شي، چې امریکا له دوی مخ وا نهړوي او له طالبانو سره به سوله ونه کړي. د دوی نرم مقاومت هم داسې نه دی، چې وښیي دوی د امریکا پر وړاندې ولاړ دي او د هغوی د پرېکړو مخالفت کوي، بلکې دوی فکر کوي چې لا هم امریکا په خپل دریځ کې جدي نه ده او د دوی د دوستۍ پاس به ساتي. له همدې امله بیا بیا داسې ښیي چې ګواکې دوی خپلواک دي او د امریکا طرحې او پلانونه نه مني.

له دې هر څه سره سره، ښکاري چې امریکا د افغانستان جګړه ختموي یا یې لږ تر لږه د ځان لپاره ختموي او له طالبانو سره د سولې پروسه مخ ته بیایي. دا چې د امریکا موخه څه ده، ښایي درک کول یې ستونزمن وي، خو غواړي چې د سولې پروسه بریالۍ کړي. که طالبان او نور اړخونه د امریکا وروستۍ طرحه ومني، نو هرو مرو به دا طرحه عملي کېږي. دا شونې نه ده چې په کابل کې چارواکي داسې مقاومت وکړي چې د امریکا د طرحې د عملي کېدو مخه دې ونیسي؛ ځکه چې له یوه اړخه دوی دا اراده او توان نه لري او له بله اړخه یې په ولس کې هم داسې باور بایللی، چې خلک به یې تر څنګ ونه درېږي. له همدې امله د امریکا طرحه عملي کېږي او چارواکي به د تېر په څېر بیا هم خپل دریځ بدلوي او نوو بدلونونو ته به توجیه پیدا کوي.

# افغانستان نږدې ۱،۵ میلیارده امریکايي ډالره پوروړی دی

عزیزالله همدرد

له نړیوالو سرچینو څخه د افغانستان قرض داري په داسې حال کې په تېرو ۱۷ کلونو کې ۱،۵ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېږي، چې په دغه موده کې یوازې ۳۰۰ میلیون ډالره بېرته ورکړل شوي او اقتصادپوهان وایي چې په ټاکلي وخت د پور د نه ورکولو په صورت کې به دغه هېواد په افلاس نوملړ کې شامل شي.

د مالیې وزارت هغه جدول چې پژواک ته رسېدلی ښیي چې افغانستان په تېرو ۱۷ کلونو کې له نړیوال بانک، اسلامي پرمختیایي بانک، سعودي فنډ، اسیایي پراختیایي بانک، د پیسو نړیوال صندون(IMF)، بلغاریا، ایټالیا، کویټ فنډ او اوپک فنډ څخه شاوخوا ۲،۷ میلیارده ډالر پور غوښتی، چې له دې ډلې یې له ۱.۸ میلیارده ډالرو ډېر پور تر لاسه کړی او نږدې ۲۰۱ میلیون او ۷۵۰ زره ډالره پور یې له تمویل کوونکو سرچینو څخه لغوه شوی دی.

د دغه جدول له مخې، له ۲۰۰۳ کال تر ۲۰۲۰ کال په ۰.۵۰٪ او ۰.۷۵٪ او ۱.۵۰٪ ټکټانه له یادو بنسټونو تر لاسه شوې او د دغه پور د بیا ورکړې وخت له ۲۰ تر شاوخوا ۴۰ کلونو ټاکل شوی، چې افغانستان د پور اخیستو له پیل راهیسې تر اوسه له ۲۵۶ میلیون او ۲۸۹ زره ډالرو پورې د ټول پور ټکټانه ورکړې ده.

سرچینې زیاته کړې، افغانستان تر ټولو ډېر پور (څه باندې ۷۰۲ میلیون او ۴۶۰ زره امریکایي ډالر) د اسیا له پراختیایي بانک څخه او تر ټولو کم پور (څه باندې ۴،۵ میلیون امریکایي ډالر) یې له اسلامي پراختیایي بانک څخه تر لاسه کړی دی.

په ورته توګه په دغه سند کې ویل شوي، افغان حکومت دغه پورونه د ځینو پروژو لکه د پلخمري د دوشي سړک جوړولو، اندخوی- اقینې سړک جوړولو، د کابل حلقوي سړک د لومړۍ برخې او دویمې برخې جوړولو، د کابل- کندهار لویې لارې د ځینو برخو رغولو، د ارمیک- سبزک- قلعه نور لارې جوړولو، قلعه نو ته د ارمیک سبزک لارې جوړولو، د کابل د حلقوي لارې لومړۍ برخې جوړولو، د سیمه ییز هوایي ډګر د لومړۍ برخې جوړولو، د اندخوی- قیصار لارې جوړولو، د هرات هوایي ډګر پراختیا، د هرات- چشت شریف لارې جوړولو او د هرات د اوسپنې پټلۍ د دویمې برخې جوړولو، د خواف- هرات ریل پټلۍ د دویم فاز څلورمې برخې جوړولو د پروژو د تطبیق لپاره غوښتي دي.

د دغه جدول په حواله، یاد پورونه په ترانسپورټ برخه کې د پروژو د تطبیق، بېړنیو انتقالاتو، د کاري فرصتونو د رامنځته کوونکو پروګرامونو، سوداګریزو اسانتیاوو او پانګونې، د بېړنۍ برېښنا د احیا پروژې، اوبو لګولو، ښوونځیو جوړولو او نورو برخو لپاره په پام کې نیول شوي دي.

### اسیایي پراختیایي بانک

اسیایي پراختیایي بانک له ۷۴۷ میلیون او ۷۲۷ زره ډېر امریکایي ډالر له جګړې وروسته د څو بعدي پروګرام د برخو، د کرنې په برخه کې اسیایي پراختیایي پروګرام، د افغانستان د پانګونې د تضمین اسانتیاوو، د سیمه ییز هوایي ډګر د لومړۍ برخې د بیارغونې، د اندخوی- قیصار سړک، د عمومي اصلاحاتو او مالي مدیریت، د غرب حوزې د اوبو مدیریت، د شمال- سویل لویه لار او د سیمه ییزې برېښنا د لېږد ژمنه کړې وه، چې له دې ډلې ۷۰۲ میلیون او ۴۶۰ ډالر افغانستان ته ورکړي او ۴۵ میلیون او ۲۶۷ زره امریکایي ډالر یې لغوه کړي دي.

### نړیوال بانک

نړیوال بانک د ترانسپورټ د برخو، د ترانسپورټ د بیارغونې بېړنۍ پروژې، د کاري فرصتونو د رامنځته کولو بېړنۍ ملي پروژې، لرې پرتو سیمو ته د رسېدنې، د بېړنیو اړیکو پراختیا، د ګمرک د اضطراري عصري کولو او سوداګرۍ د اسانتیا، د بېړنۍ اوبو لګولو توان ورکولو، د برېښنا د توان ورکولو د اضطراري پروژې، د بنسټ جوړونې پروګرام د ملاتړ، د کابل ښار د بیارغونې پروژه او د افغانستان د پانګونې د تضمین په برخه کې د اسانتیا رامنځته کولو په برخه کې د څه باندې ۴۴۳ میلیونو ډالرو ژمنه کړې وه.

دغه بانک له یادې اندازې پور څخه افغانستان ته څه باندې ۴۳۴ میلیون او ۴۷۰ زره ډالر ورکړي او څه باندې ۸ میلیون او ۶۱۵ زره ډالر یې لغوه کړي دي.

### سعودي فنډ

سعودي فنډ هرات ته د کابل- کندهار سړک، د ارملیک- سبزک- قلعه نو لارې، قلعه نو ته د ارملیک سبزک سړک، د کابل د حلقوي سړک لومړۍ برخې، د افغانستان د ښوونځیو د رغونې پروژې په برخه کې د ۲۱۸ میلیون او ۷۰۰ زره ډالرو پور ژمنه کړې وه، چې نږدې ۱۰۶ میلیون او ۶۵۰ زره ډالر یې افغانستان ته ورکړي او له ۴ میلیون او ۹۰۰ زره ډالر یې لغوه کړي، خو څه باندې ۱۰۷ میلیون او ۱۳۴ زره ډالر پاتې دي.

### اسلامي پراختیایي بانک

اسلامي پراختیایي بانک د دوشي- پلخمري سړک، اقینې ته د اندخوی سړک، د برېښنا د منطقوي اتصال، د اوبو لګولو او اوبو د سرچینو د تقویې او مدیریت، د کابل د حلقوي سړک د لومړۍ برخې او دویمې برخې لپاره د څه باندې۱۴۰ میلیون او ۶۰۰ زره امریکایي ډالرو پور ژمنه کړې وه چې څه باندې ۵۹ میلیون او ۴۷۰ زره ډالر یې تر لاسه کړي او له ۴ میلیون او ۵۴۰ زره ډېر ډالر یې لغوه شوي دي، خو نږدې ۷۶ میلیون او ۵۹۰ زره ډالر یې تر اوسه نه دي تر لاسه شوي.

### نړیوال وجهي صندوق(IMF)

نړیوال وجهي صندوق (IMF) د بېوزلۍ د کمښت، د تمدید شوو اسانتیاوو پروګرام، د چټک باور اسانتیاوو او تمدید شوو باوري اسانتیاوو په برخه کې د څه باندې ۸۴۵ میلیون او ۱۹۳ زره امریکایي ډالرو ژمنه کړې وه چې له ۴۹۲ میلیون او ۷۶۸ زره ډالرو ډېر یې افغانستان ته ورکړي او ۹۵ میلیون او ۹۷۶ زره ډالر یې بېرته لغوه کړي دي.

پاتې پورونه افغانستان له بلغاریا، ایټالیا، کویټ فنډ او اوپک فنډ څخه تر لاسه کړي دي.

### د اقتصادي چارو شنونکي

اقتصاد پوهان وایي، د کرنې د پراختیا، اوبو د کنټرول، انرژۍ برابرولو، کانونو استخراج او نورو ورته موادرو لپاره له نړیوالو موسسو د پور اخیستل ستونزه نه لري؛ خو دولت یې باید د بېرته ورکولو لپاره لوی پروګرامونه ولري.

د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد او د اقتصادي چارو کارپوه سیف الدین سیحون وایي، دا چې افغانستان د کرنې پراختیا، اوبو د کنټرول، انرژۍ برابرولو، کانونو استخراج او نورو ورته موادرو لپاره له نړیوالو باوري سرچینو پور اخیستی، د ستاینې وړ کار دی.

هغه زیاته کړه، افغان دولت باید د یادو پورونو د بېرته ورکولو لپاره جامع او منظم پروګرام ولري چې یاد پورونه په ټاکلي وخت بېرته ورکړي.

هغه د پور اخیستل یو اقتصادي اصل بولي او وایي، هېڅ هېواد نه شي کولای د پور له اخیستو پرته فعالیت وکړي، د پور اخیستل د یو باوري نړیوال بنسټ څخه چې ګټه یې ډېره کمه وي، ستونزه نه لري او باید د عامه ګټو په برخه کې مصرف شي.

نوموړي پرې دې په ټینګار چې د پور اخیستل ستونزه نه لري زیاته کړه، اصلي ستونزه د مدیریت کمزورتیا او د سرچینو برابرول دي.

هغه له افغانستان سره په بهرنیو مرستو کې د ستونزو موجودیت ته په اشاره وویل، په جوړښت کې ستونزې موجودې وې چې له بده مرغه د نړیوالې ټولنې له مرستو څخه د بنسټیزو پروژو د تطبیق په برخه کې استفاده ونه شوه.

د هغه په خبره، مرستې یوازې په بشردوستانه مسایلو او د موادو د وېش په برخه کې وې چې د زېربناوو په رغونه، انرژۍ د تامین او د افغانستان د صنعتي پراختیا په برخه کې یې هېڅ اغېز نه دی کړی.

سیحون زیاته کړه، د مرسته شوو پیسو ډېره برخه د مرستو د انسجام او مدیریت، بهرنیو کسانو د سفر او په خارجي مډل د اوبو د سرچینو د مدیریت، دفتر او دیوان په برخو کې مصرف شوې دي.

هغه وویل، ځینې مرستې چې د وسایلو او تجهیزاتو د برابرولو لپاره ځانګړې شوې وې، له دې امله بېرته بهر ته وړل کېدلې چې یاد وسایل په بهر کې پېرل کېدل او انتقال یې هم ډېر مصرف درلود.

د اقتصادي چارو شنونکي د دې په روښانولو چې نړیوالې ټولنې په تېرو ۲۰ کلونو کې له افغانستان سره ۱۵۰ میلیارده ډالره بلاعوض مرستې کړې، وویل، د نړیوال بانک او خپلواکو بنسټونو څېړنه ښیي چې په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې ٪۸۰ مرستې مرستندوی هېواد ته بېرته تللې دي.

هغه روښانه کړه: «افغانستان د پروژو په تنظیم، لګښتونو او نړیوالې ټولنې په مصارفو کې ډېر غیر مسوولانه عمل کړی دی.»

هغه له افغان دولت څخه غوښتل، چې هر هغه کومک چې د دوی په واک کې ورکول کېږي باید په ډېر غور پانګونه وکړي او د نړیوالو او کورنیو څارونکو د قناعت لپاره د مصرف د حساب ورکولو منظم سیستم ولري.

په ورته وخت کې د کابل ښار د یوه خصوصي پوهنتون استاد او د سیاسي چارو شنونکي قیس محمدي وویل، د بنسټیزو پروژو د تطبیق لپاره د پورونو تر لاسه کول چې په راتلونکي کې عایدات ولري، یوه اړتیا ده.

نوموړي په مناسب وخت کې د تر لاسه شویو پیسو مصرفول ډېر مهم وبلل او ویې ویل، پیسې باید په ځانګړې پروژه مصرف شي څو لازمي موخې تر لاسه شي.

محمدي د دې په روښانولو چې مالیې وزارت باید د پورونو د بېرته ورکولو لپاره یو میکانیزم جوړکړي، وویل، پورونه دې د داسې پروژو د تطبیق لپاره واخیستل شي چې ګټوري وي، څو په راتلونکي کې د هغو له عایداتو بېرته پور ورکړل شي.

د ده په خبره، که پروژه عاید ونه لري حکومت باید د کلنۍ بودیجې پر مهال یوه اندازه پیسې د پورونو د بېرته ورکړې لپاره په بانکونو کې پانګوالۍ ته پرېږدي، څو په راتلونکو کلونو کې د پور د ورکړې لپاره کافي پیسې موجودې وي.

هغه په ډاګه کړه چې افغانستان باید تر لاسه کړي پورونه په ټاکلي وخت بېرته ورکړي، له دې پرته به د افلاس هېوادونو په لېست کې شامل شي. دغه موضوع ډېره مهمه او خطرناکه ده، ځکه که افغانستان په دغه لېست کې شامل شي، هېڅ هېواد او نړیوال بنسټ به پور ورکولو ته حاضر نه وي.

هغه د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د پور اخیستل ناسم بولي او وایي: «له اقتصادي اړخه افغانستان دا وړتیا لري چې کافي اندازه داخلي عایدات تر لاسه کړي، نه یوازې پور ته اړتیا نشته؛ بلکې مخکینې پورونه هم په اسانۍ سره ورکړای شي او د خلکو په ژوند کې هم بدلون رامنځته شي.»

هغه دې موخې ته رسېدل د سولې او جګړې په شرایطو پورې تړلي وبلل او ویې ویل، که سوله راشي او یو واحد مرکزي حکومت د داخلي صنایعو د عایداتو، د کانونو استخراج، صادراتو او نورو موادرو له لارې عایدات تر لاسه کړي، اصلاً به د پور اخیستو ته اړتیا نه وي.

هغه په هېواد کې پر سوله ټینګار کوي او وایي، که جګړه ختمه او سوله ټینګه نه شي، په هېڅ صورت به افغانستان تر لاسه کړي پورونه ور نه شي کړای او د نورو پورونو د اخیستو مخه به ونه شي نیولای.

نوموړي نړیوالو مرستو ته په اشاره وویل، نړیوالې ټولنې له افغانستان سره د ډېرو پیسو مرسته وکړه، خو د مدیریت د نه موجودیت له امله یې ډېره اندازه د امنیتي، ساختماني او نورو کمپنیو له لارې بېرته امریکا او اروپا ته انتقال شوې ده.

نوموړي زیاته کړه، د مرسته شوو پیسو ډېره اندازه د هېواد په داخل کې حیف و میل شوې، چې اوس له هېواده بهر بانکونو کې پانګونه پرې شوې یا په امریکا او اروپا کې ذخیزه شوې دي.

هغه په دې په ټینګار چې که مرسته شوې پیسې نه وای حیف و میل شوې اوس به افغانستان په داسې وضعیت کې نه و، وویل، د مدیریت نه موجودیت په دې مانا نه دی چې پور تر لاسه نه شي.

د افغانستان د مالیې وزارت د اطلاع رسونې مسوول فرید نوښت وایي، په وروستیو دوو لسیزو کې یې د نړیوالې ټولنې له بلاعوض مرستو سربېره له ۱.۵ میلیارده ډېر ډالر پور کړی، ځکه د یادو پورونو تر لاسه کولو ته د اساسي پروژو د تطبیق په برخه کې جدي اړتیا وه.

نوموړي د پورونو د بېرته ورکړې په اړه وویل، د پورونو د بېرته ورکړې لپاره منظم پلان موجود دی، چې افغانستان افلاس نوملړ ته داخل نه شي.

هغه له جزییاتو پرته وویل، افغان حکومت هر کال د پورونو د بېرته ورکولو په موخه په ۲۳ کود کې چې د پورونو د بېرته ورکړې اړوند دی، یوه اندازه پیسې په نظر کې نیسي.

هغه د اقتصاد پوهانو دې اندېښنې ته په ځواب کې چې پورونه د ګټورو پروژو د تطبیق لپاره نه دي اخیستل شوي، وویل، یوه اندازه پورونه په مخکینې حکومت پورې هم تړاو لري چې په اړه یې څه نه شي ویلای.

هغه وویل، پورونه د هغو پروژو لپاره اخیستل کېږي چې ملي وي او د حکومت لپاره لومړیتوب ولري او د تمویل کوونکو او هېواد د داخلي عایداتو له لارې تمویل نه شي.

دغه راز نوموړي وویل، د دغه ډول پروژو د عملي کولو لپاره حکومت اړ دی چې پور واخلي.

نوښت د ټولو پورونو د بېرته ورکولو شرایط ساده وبلل او زیاته یې کړه، ځینې یاد پورونه هېڅ ټکټانه نه لري، خو ځینې نور یې لږ ټکټانه لري.

# بیش از چهل درصد معتادان مواد مخدر در افغانستان زنان هستند

خلیل نوری؛ بی‌بی‌سی

بر اساس آمار وزارت صحت عامه افغانستان شمار معتادان در این کشور به ۲.۵ میلیون نفر می‌رسد که نزدیک به ۸۵۰ هزار آن زنان هستند.

مسئولان این وزارت می‌گویند، هیچ ولسوالی در کشور نیست که زنان معتاد در آنجا نباشند.

عبدالشکور حیدری، معاون اداره کاهش تقاضای مواد مخدر وزارت صحت عامه به بی‌بی‌سی گفت: «بیشتر زنان معتاد در ولایت‌های شمالی و غربی ثبت شده اند.» به گفته او، زنانی که شریک زندگی، برادر و پدرشان مصرف کننده مواد مخدر بوده اند، آنها را وادار به مصرف کرده‌اند. او دلیل دیگر روی آوردن زنان به مواد مخدر در افغانستان را غم از دست دادن عزیزان و تسکین دردهای عاطفی با مصرف مواد مخدر می‌داند. از طرف دیگر، زنان روستایی که کار سخت می کنند با مصرف مواد مخدر به گفته آقای حیدری «درد کار شاقه را با مواد مخدر آرام می‌سازند.»

با یکی از زنانی صحبت کردم که یک و نیم سال است هروئین مصرف می کند. او زنی در یکی از ولسوالی‌های دورافتاده افغانستان است که اعتیاد به مواد مخدر را از همسرش گرفته. نمی‌خواهد از وی نام برده شود، می گوید، سه کودکش نیز معتاد شده اند.

او می‌افزاید: «مادر و پدر شوهرم هم دود می کنند، اولادهای خودم هم دود می‌کنند. اولادهای کلانم را دود پف می‌کنیم.» او می‌گوید، بعد از عروسی متوجه شد که شوهرش معتاد است. این زن می‌گوید: «شوهرش به زور مواد داد، یک دود و دو دود، بالاخره من هم معتاد شدم. به من می گفت دود کن، چند سال به همین شکل همرایش زندگی کردم، بالایم فشار آورد که یک دود کن و هر مرضی که داشته باشی جور می‌شوی.»

این زن که حدود ۳٦ ساله است، از یک ماه به این سو در یکی از مراکز صحی زیر درمان است. او می‌گوید، مدتی است که توانسته اعتیاد را ترک کند، اما در بازگشت به خانه، ترس از اعتیاد دوباره دارد.

در کل کشور ۴۰۷۰ بستر برای درمان معتادان به مواد مخدر اختصاص یافته است، از آن جمله تنها هجده درصد آن برای زنان است. به گفته مسئولان، شمار زنان معتاد در روستاهای افغانستان حدود دو برابر شهرهاست.

کودکان معتاد در افغانستان آسیب پذیرترین گروه معتادان هستند که شمارشان به «حدود یکصد و پنجاه هزار کودک» می‌رسد. کارمندان مبارزه با اعتیاد می گویند، مصرف مواد مخدر در هر خانه می‌تواند تا ده تن را در معرض خطر اعتیاد قرار بدهد.

در کابل با وجود رقم بلند معتادان زن، تنها چهار مرکز درمانی زنان معتاد فعال است. شایسته حکیم، ناظم یکی ازین مراکز است. مرکزی که به گفته او در یک سال گذشته بیش از شش صد زن و ده‌ها کودک را از چنگ اعتیاد بیرون کرده است. خانم حکیم به بی‌بی‌سی گفت: «کودکان چون بیشتر وابستگی به مادر دارند، ضرر می‌بینند، قربانی اعتیاد حالا کودکانی هستند که سن بسیار پایین دارند و وضعیت شان فوق العاده بحرانی و خطرناک است. بیشتر مادرانی که نزد ما می‌آیند، با کودکان معتاد به مرکز ما مراجعه می کنند.»

وزارت صحت عامه می گوید، سالانه تنها یک میلیارد افغانی (۱۳ میلیون دالر) برای مبارزه با اعتیاد اختصاص یافته است.

عبدالشکور حیدری، معاون اداره کاهش تقاضای مواد مخدر وزارت صحت عامه می‌گوید، بودجه این بخش در حدی است که «از هر صد نفر معتاد تنها یک نفر» درمان می‌شود.


او گفت: «ما ۴۰۷۰ بستر داریم که تنها هجده درصد آنها به زنان اختصاص یافته که بسیار ناچیز است و باید ۴۰ درصد آن به زنان اختصاص یابد. سالانه یک میلیارد افغانی در بخش مبارزه با اعتیاد مصرف می‌شود که بسیار ناچیز است، یعنی ما می‌توانیم از صد نفر معتاد یک نفر را تداوی کنیم و ۹۹ نفر از تداوی می‌مانند.»

وزارت صحت عامه می گوید، برای درمان کل معتادان در این کشور سالانه به صد میلیارد افغانی (۱۳۰ میلیون دالر) نیاز دارند. این وزارت می‌افزاید، برخی پیشنهادها به دلیل کمی بودجه تایید نشده است.

افغانستان بزرگترین تولید کننده مواد مخدر است که در حال تبدیل شدن به یکی از مصرف کنندگان اصلی است، در حالی که امکانات درمانی به تناسب شمار معتادان بسیار ناچیز است.

# د امریکا پر طرحه او لیک غبرگونونه؛

## امرالله صالح: موږ ته مو د خلکو حقونه مهم دي، تحمیلي سوله نه شو منلی



د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د وروستي لیک په اړه د غبرګونونو په دوام تېره ورځ ګڼو افغان چارواکو د امریکا له وروستي دریځ او د دوی له لیک سره مخالفت کړی دی.

د ولسمشر لومړي مرستیال تېره ورځ په یوه غونډه کې د خبرو پر مهال وویل چې د امریکا په لیک او نوې طرحه کې له افغانانو د انتخاب یا رایې حق اخیستل شوی او په خبره یې، دوی به په هېڅ صورت د رایې پر حق معامله نه کوي. د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله بیا وویل چې دا لیک مهم جزیات لري او باید بحث وربانديې وشي.

د افغانستان د سولې مسئله له لومړي سره نانډریزه وه او له ځان سره یې ډول ډول غبرګونونه او لوړې ژورې لرلې دي. وروسته له هغې چې د دوحې بهیر د امریکا له لوري ناکام وبلل شو، نو د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد له یوې نوې طرحې سره را میدان ته شو. خو کابل ته د هغه له راتګ او نوې طرحې تر راوړلو دوې ورځې مخکې په کابل کې د امریکا سفارت د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله او ولسمشر غني ته لیکونه استولي وو او دوی ته یې د ځینو مسایلو په اړه ګوتڅنډنه کړې وه.

د خلیلزاد د سفر عمده برخې هم پر دې لیک خبرې او د مذاکراتو د نوې طرحې وړاندې کول وو. ولسمشر غني لا وار د مخه د ملي شورا د پرانیستې په مراسمو کې د امریکا طرحه رد کړه او هغه یې تش خوب او خیال وبلله. د ولسمشر په خبره: «هره اداره او هر کس کولی شي دغه ډول خیالي او له خوبونو ډکې طرحې جوړې کړي. دا طرحې مخکې هم جوړې شي او بیا به هم جوړېږي، خو د سولې اصلي پرېکړه به افغان ولس کوي».

له دې ورهاخوا تېره ورځ په کابل کې د مارشال محمد قسیم فهیم د اووم تلین مراسم جوړ شوي وو، چې په هغه کې د ولسمشر لومړي مرستیال هم خبرې وکړې. نوموړي په واضح الفاظو د امریکا د بهرنیو چارو وزیر له لیک او د دغه هېواد له نوې طرحې سره مخالفت وکړ. ده وویل، افغانان د یوه پیاوړي ملت په توګه هېڅ ته سر نه ټیټوي او په خبره یې، د امریکا آمرانه او تحمیلي سوله ورته د منلو نه ده. د ده په خبره: «موږ د سولې ملاتړي یو، خو هغه سوله نه منو، چې پر موږ تحمیل کېږي، هغه سوله نه منو چې فرمایشي وي او د افغانانو حقوق پکې تر پښو لاندې کېږي».

امرالله صالح دغه راز زیاته کړه چې امریکا د خپلو سرتېرو د ایستلو او ساتلو په لټه کې ده، خو افغان حکومت ته هم د خپلو وګړو غوښتنې، ساتنه او حقوق مهم دي. د ده په خبره: «که امریکا ته د خپلو دوه نیم زره عسکرو ژوند مهم دی، نو موږ ته هم د خپلو ۳۵ میلیونه وګړو ژوند، حقوق او ساتنه مهمه ده».

د ولسمشر لومړی مرستیال وایي چې د امریکا د نوې طرحې پر بنسټ له افغانانو د رایې حق اخیستل کېږي او په خبره یې، یوه نوې اسلامي شورا به جوړېږي او دوی به له سره افغانانو ته اسلامي هویت ورکوي. هغه زیاته کړه، چې امریکا باید د افغانستان حساسیتونو، د افغانانو سربښندونو، دودونو، مذهب او رسومو ته درناوی وکړي او په وینا یې، دوی یوازې هغه اړیکې له امریکا سره پالي، چې پر دوو اړخیزو ګټو ولاړې وي.

بلخوا د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله بیا داسې ښکاري لکه له دې لیک او مواردو سره یې چې موافق وي. هغه په همدې مراسمو کې وویل د بلېنکن له لیک دفاع نه کوي، خو په خبره یې، دا لیک داسې موارد لري چې باید بحث وربانديې وشي. د ولسمشر یو سلاکار محمد محقق هم په دې باور دی، چې دا طرحه د افغانانو لپاره د منلو نه ده او په خبره یې، وضعیت کنټرول ته اړتیا لري او هر څه د افغانانو له لاسه وتلي ښکاري.

# ویرتومر هوچي: د روسیې جوړ شوی واکسین خطرناک دی، اروپایي هېوادونه دې یې نه تطبیقوي




د اروپا د درملو ادارې یوه جګپوړې چارواکې اروپایي هېوادونو ته خبرداری ورکړی، چې د روسیې لهخوا جوړ شوي واکسین سپوتنیک-وي ته دې اوسمهال د تطبیق اجازه نهورکوي.

د یادې ادارې د بورډ مشرې کریستا ویرتومر هوچي د اروپایي ټولنې هېوادونو ته خبرداری ورکړ چې د روسیې سپوتنیک-وي واکسین ته دې تر هغه وخته د تطبیق اجازه نهورکوي، چې په اړه یې د دې ادارې څېړنې بشپړې شوې نه وي.

نوموړې له اتریشی خبري شبکې سره په مرکه کې ویلي، دا اداره چې مرکز یې په امستردام کې دی، د خپلو څېړنو لپاره اسنادو او د واکسین شویو خلکو دقیقو معلوماتو ته اړتیا لري.

هغې زیاته کړې چې سپوتنیک-وي نامعلوم واکسین دی او ځکه نو د دې مشوره دا ده چې د دې واکسین تطبیق ته باید په روان بېړني حالت کې اجازه ورنهکړل شي، خو هغې زیاته کړې، چې سپوتنیک-وي ته په راتلونکي کې وروسته له دې چې معلومات‌یې وڅېړل شي، په اروپایي مارکېټ کې د خرڅلاو اجازه ورکول کېدای شي. نوموړې ویلي، چې دې ادارې د روسي واکسین د اغېزمنتوب په اړه څېړنې پیل کړې دي.

د یادې ادارې چارواکې همداراز وایي، چې د سپوتنیک-وي د جوړوونکو له لوري معلوماتي بستې راروانې دي او د کیفیت، خوندیتوب او اغېزمنتوب په اړه به یې له اروپایي معیارونو سره سم څېړنې وشي.

دا په داسې حال کې ده چې د درملو د قوانینو د چارو دې اروپایي ادارې د مارچ په څلورمه نېټه وویل چې د سپوتنیک-وي د اغېزمنتوب په اړه یې څېړنې پیل کړې. دا د اروپایي ټولنې په ۲۷ غړو هېوادونو کې د دې واکسین د تایید لپاره لومړی ګام ګڼل کېږي.

د «EMA» د انساني درملو کمېټه به د سپوتنیک-وي د کلینیکي تطبیق د بهیر د معلوماتو په اړه تر هغه مهاله تحقیق وکړي چې د تایید لپاره یې لازم کلینیکي معلومات ترلاسه شي.

د سپوتنیک-وي د اغېزمنتوب په برخه کې لومړی یو څه ابهام و، خو د هغه د ازموینې وروستیو نتایجو چې تېره میاشت خپرې شوې، وښودله چې دا واکسین چې دوه ډوزه لري، یانې په دوو پړاوونو کې ورکول کېږي، د کرونا د عوارضو د مخنیوي په برخه کې په سلو کې ۹۱،٦ ګټور دی.


د هغو واکسینونو چې د لوېدیځ ځینو هېوادونو جوړ کړي، د اغېزې کچه هم تقریباً همدومره ده. د اروپا د درملو د قوانینو ادارې مخکې له دې د فایزر، بایو اېن تیک، مودرنا او استرازینیکا واکسینونه تایید کړي او تمه ده چې د جانسن انډ جانسن د کمپنۍ واکسین ته هم راتلونکې اونۍ اجازه ورکړي.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




سېنها: د بلوچستان له کبله په شرم‌الشیخ کې د هند او پاکستان تر منځ تړون ونشو. آیا دا کار د سولې لاره نوره نه پسې اوږدوي؟

دولت: بېچاره منموهن سېنګ. د شرم‌الشیخ د هماغې بیانیې په وسیله له غونډۍ څخه غر جوړ کړی و. هر څه چې هغه وویل، سم یې وویل، که ته وایې چې داسې او یا داسې یې وویل، موږ به بېرته پام ورته وکړو. د ده موخه دا وه چې موږ دا کارونه نه کوو، خو له کله چې تاسو دا خبرې کوئ، نو موږ به بېرته پام ورته وکړو. د نه-نه-نه-نه تر ویلو همدا خبرې سمې وې، چې ویې کړې.

لومړی وزیر پر ټولو کوچنیو جزیاتو، پر ټولو کوچنیو عملیاتو او په نړۍ کې پر هرې کوچنۍ پېښې نه وي خبر. زه فکر نه کوم چې منموهن سېنګ دې غلطې خبرې کړې وي.

دورانی: په لوبه کې بل تر ټولو لوی ویجاړوونکی فکتور رسنۍ دي. دوی داسې فضا رامنځته کوي چې په صداقت او ایمانداری دنده پرمخ نه په کې وړل کېږي.

دولت: رښتیا ده.

دورانی: موږ دواړه دا منو چې له ترهګرۍ سره ګډه مبارزه ښه کار دی. اوس هم دا کار کېدای شي. هر څه چې هغه وویل، د بلوچستان په اړه وو. نو څه شی یې په خبرو کې خطرناک دي، چې ته بېرته پام ورته کوې؟

دولت: بدبختانه دا خبرې ډاکتر منموهن سېنګ وکړې، نه واجپای. ځینې وایي چې واجپای به هېڅکله داسې خبرې ونه کړې. ښایي د واجپای لپاره به ښه خبره دا وي، چې هېڅکله به هم داسې پوښتنه نه وي ترې شوې. هېڅا به هم د ده شرمول نه وي غوښتي.

د ډاکتر منموهن سېنګ په قضیه کې د مقام او حیثیت له کبله وخت په وخت دا کیسې راپورته کېدې. که څه هم له همدې خبرو یې موخه سمه وه، خو دی یې ضعیف معرفي کړ. دا کار رسنیو وکړ: «آهه! موږ په خپله اعتراف وکړ، موږ په خپله ومنله!»
لومړی وزیر څه ویلی شي؟ ولسمشر څه ویلی شي؟ د هرې مرکې لپاره هر سیاستمدار ځنګه تیاری نیولی شي؟

### ۲۳
### خبرې او ترهګري

دولت: هرکله چې له پاکستان سره زموږ اړیکې نورې هم خړې پړې شي، وایو چې «خبرې او ترهګري په یوه وخت کې نه کېږي.» دا خبرې منطقي دي، خو دا مانا نه چې موږ باید هېڅکله هم له پاکستان سره خبرې ونه‌کړو. پاکستان خپله هم د ترهګرۍ قرباني دی. خو دوی ترهګري زموږ پر خلاف هم کارولې ده، نو ولې باید خبرې ورسره وکړو؟

کله چې خبرې اترې پیل کړې او په یوه بهانه ووایې، چې خبرې او ترهګري په یوه وخت کې نه کېږي، نو یا به هېڅ خبرې نه کوې یا به ماغزه نه لرې. نو بیا دې ولې خبرې اترې پیلولې؟ ولې لاهور ته تللې؟ ولې دې د خبرو کانال جوړاوه؟ ولې ډاکتر منموهن سېنګ خپل وخت ضایع کاوه؟

کله چې نوی ډیلی وایي، چې خبرې او ترهګري په یوه وخت کې نه کېږي، دا کار پر عوامو اغېز کوي. کله چې واجپای لاهور ته روان شو په ډیلي کې خلک خوشبین وو. نن چې په ډیلي کې چاته له پاکستان سره د خبرو په اړه ووایې، هغه فکر کوي چې ته لېونی یې. دی وایي، چې موږ به څه شی ورکوو؟ او بېرته هماغې زړې خبرې ته راځو: آیا پر کشمیر ورسره جوړېدای شو؟

روغه جوړه به څوک کوي؟ کله چې د همکارۍ په اړه خبرې کوو، نو ولې ‹روغه جوړه› کلمه کاروو؟ نه موږ پاکستان ته څه ورکولی شو او نه یې پاکستان موږ ته. سوال دا دی، چې څومره همکاري سره کولی شو. په دې اړه ناراسیما راو وایي، چې کله همکاري پیل شي، بیا نو له اسمان پرته نور حدود نه لري.

دورانی: دا جمله ‹خبرې او ترهګرې په یو وخت نه کېږي› ما ته نورې دې ته ورته جملې را په زړه کوي.›خبرې او ترهګرې په یو وخت نه کېږي.› ‹له خبرو پرته بل انتخاب نه لرو.› ‹جګړه هېڅ ستونزه نه حل کوي.› ‹له ترهګرو سره خبرې نه کېږي.› دا جملې دومره ډېرې ویل کېږي، چې نورې پر ارزښتونو بدلې شوې دي.

دولت: واجپای هېڅکله داسې جملې نه دي ویلې.

**دوام لري...**

# ویسلا وا شیمبورسکا

شفیق امیرزی



ویسلا وا شیمبورسکا هغه شاعره او لیکواله وه، چې په ۱۹۹٦ کال کې یې د نوبل جایزه وګټله. د نوبل کمېټې غړو وویل، نوموړې پیاوړې شاعره ده چې ژبنی ظرافت یې له قوي شور او هیجان سره ګډ کړی دی. د نوموړې شعرونه په انګلیسي، فارسي، عبري، عربي، چینایي او اروپایي ژبو ژباړل شوي دي. له نوموړې ډېرې شعري ټولګې چې تر ډېره په پولنډي ژبه لیکل شوې او همدا راز د شعر او ادب په اړه ګڼې مقالې په میراث پاتې دي.

ویسلا وا شیمبورسکا د ۱۹۲۳ کال د جولای په دویمه د پولنډ په لوبدیځ کې په یوه واړه کلي کې وزیږېده. پلار یې د ملکیتونو کاروبار کاوه او په اصل کې د کېنټ اړوند کورنۍ وه. د اتو کلونو وه چې له خپلې کورنۍ سره یې یو ځای کراکوف ته وکوچېده او هلته مېشت شوه. همدلته یې ښوونځی ولوست، په خپله کورنۍ کې یې هم زده کړې کولې تر دې چې له ۱۹۴۵ تر ۱۹۴۹ کال پورې یې د کراکوف په یاګیلونیا پوهنتون کې د ادبیاتو او ټولنپوهنې په برخه کې زده کړې بشپړې کړې. لومړنی شعر یې په ۱۹۴۵ کال کې د کراکوف په ورځپاڼه کې چاپ شو. هغه په خپلو شعرونو کې د خپل وخت حاکمې نظریې پاللې دي، لومړنۍ شعري ټولګه یې هم د پولنډ د حاکم کمونیستي فکر استازیتوب کوي. لومړنۍ شعري ټولګه یې «همدې ته ژوندي یو» نومېږي. دا ټولګه یې ریالیستي او سوسیالیستي فکر پالي. نوموړې لیکلو او شاعرۍ ته ادامه ورکړه، تر دې چې بالاخره د لومړي ځل لپاره په ۱۹۵۳ کال کې د یوې ادبي مجلې د هیئت تحریر د غړې په توګه وګومارل شوه. دې مجلې به تر ډېره روښانفکره مطالب خپرول او پر همدې مفکورو یې باور درلود. نوموړې د اوږدو کلونو لپاره په دې مجله کې کار وکړ. ان تر دې چې تر ۱۹۸۱ کال پورې یې دلته کار وکړ چې څه باندې دېرش کاله کېږي. مخکې مو هم وویل چې هغه په لومړي سر کې د پولنډ د حاکم کمونیستي رژیم ملاتړې وه. کله کله به دا تور ورپورې کېده چې د ګوند له سرو کرښو اوړي او څو ځله په دې تړاو استجواب شوې هم ده. هغه ور ورو د حاکم ګوند غړې شوه، خو کله چې دغه ګوند خپل نوم بدل کړ او په خپلو تګلارو کې یې بدلون راوست؛ نو ویسلا هم ورو ورو له دوی د واټن په لټه کې شوه. سره له دې چې هغه په دې وخت کې په رسمي توګه له ګوند ونه وته، خو د دغه ګوند له مخالفانو سره یې اړیکې پراخې شوې. هغه سیاسي افکار پالل، خو په دې وخت کې یې هڅه کوله چې له سیاست ځان لرې کړي او یوازې پر خپلو فرهنګي کارونو تمرکز وکړي. په ۱۹٦٦ کال کې په رسمي توګه له کمونیست ګوند بېلېږي او خپله فکري لاره هم له دغه ګوند او مفکورې سره بېلوي. دې ته څه نه و پاتې چې ویسلا په ګوند کې لوړو پوړیو ته ورسېږي؛ خو له دوی سره یې لاره بېله کړه. په پولنډ کې د کډوالۍ په نامه د مشهورې مجلې له مدیر مسوول سره یې اړیکه پیدا شوه او د ۱۹٦۴ کلونو په جریان کې دوی دا پرېکړه وکړه، چې د بیان د ازادۍ او روښنفکرانو ته د قلم او ژبې چلولو واک ورکړل شي.

ادبي نقادان او لیکوالان په دې باور دي چې ویسلا د نوبل په ګټونکو کې د ګوتو په شمېر حقداره کسانو له ډلې ده. د دوی په خبره، ډېری شاعران چې د نوبل جایزې یې ګټلې هم دي، خو دومره پیاوړې شاعرې او لیکوالې یې نه ده کړې لکه څومره چې ویسلا وا کړې ده.

د نوموړې د شعر یوه مهمه ځانګړنه دا ده چې رندانه طنز یې په شعرونو کې ډېر دی. نوموړې ورځنې مسایل را اخلي، په شعرونو کې یې ځای پر ځای کوي، د انسانانو ورځنې باورونه او افکار را اخلي او په کلماتو کې یې تر مخاطب رسوي. د شیمبورسکا طنزونه په عمده توګه فلسفي تګلاره لري. هغه غواړي په دې توګه انسانان د ژوند اهمیت ته متوجه کړي. په انسان کې د ژوند او کړو وړو لپاره ارزښتونه رامنځ ته کوي. هغه له یوې خوا ځینې مسایل د طنز په ژبه د خلکو له نظر لرې کوي؛ خو له بلې خوا ځینو مسایلو ته فلسفي اړخ ورکوي او لوستونکی فکر کولو ته هڅوي. په لیکنو کې یې تر ډېره ژوند او په ژوند پورې اړوند مسایلو ته ارزښت ورکوي او عمده هدف یې دا دی چې خلک له بې مانا والي او بې اهمیت کېدو وژغوري.

د ویسلا د شاعرۍ بل اړخ دا دی چې کله کله د مرګ په اړه هم غږېږي. د مرګ مسایل هم کله له فلسفي زاویو او کله هم د طنز او ورځنیو مسایلو له زاویو په خپلو شعرونو کې وړاندې کوي. نقادان وایي، دوی ډېر کم داسې شاعران لیدلي چې شعر یې دې دومره ساده وي؛ خو په عین حال کې دې بیا له ژورو مفاهمو ډک وي. دوی وایي، هغه عامیانه خو په ورته وخت کې ډېر دقیق الفاظ کاروي. له همدې امله نه یوازې په پولنډ؛ بلکې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د نوموړې شعرونه مینه وال لري او د ساده توب او دقیق توب له امله د نړۍ په ډېرو ژبو د ویسلا شاعري او کتابونه ژباړل شوي دي.

نقادان وایي، وورسته له هغه چې ویسلا وا ته نوبل جایزه ورکړل شوه، د ادبیاتو په نړۍ کې ادیبان او نقادان د یوې بلې ستورې په پیدا کولو بریالي شول. دوی وایي، دا په دې مانا نه ده چې تر دې مخکې زموږ شاوخوا تیاره وه او بل لیکوال نه وه رڼاه کړې، بلکې په دې مانا ده چې د نورو لیکوالانو لخوا بله شوې ډېوه په دې سره نوره هم رڼا شوه او یوه بل اضافه شمعه هم د نړۍ په ادبیاتو کې ولګول شو. موږ مخکې هم وویل چې هغه په ۱۹۳۱ کال کې له خپلې کورنۍ سره یو ځای کراکوف ښار ته کډه شوه. د دې ښار محیط، زده کړو، شاوخوا کسانو، سیاسي جریان، سیاسي ګوندونو، دلته زده کړو، پوهنتون او ښوونځي دې هر څې د ویسلا وا پر ژوند اغېز درلود. هغې چې کله دلته خپل لیسانس بشپړ کړ، نو په ۱۹۵۳ کال کې یې له مطبوعاتو سره خپله همکاري پیل کړه. دلته د ادبي ژوند په نامه یوه اونیزه نشرېده او دا هم ورسره قلمي همکاره شوه. دا بل هغه څه وو چې تر زده کړو او علاقې وروسته یې د ویسلا پر ژوند اغېز درلود؛ ځکه په دې اونیزه کې تکړه لیکوالانو او ادبي فعالینو لیکنې خپرولې او دې یې هم له نظریاتو او نقدونو استفاده کوله. نوموړې پوره اته ویشت کاله په دې اونیزه کې دنده تر سره کړه. نقدونه یې ولیکل، مقالې یې ولیکلې، کتابونه او ډېر مهم لیکوالان یې ټولنې ته معرفي کړل. هغې له دې سره هم‌مهاله د خپل هېواد په ډېرو نورو ادبي مجلو کې هم دنده تر سره کړه. نقدونه، شعرونه او لیکنې یې په نورو ادبي مجلو کې هم خپرېدې.

«کب نیوونکي له اوبو یو بوتل را واخیست. په دې بوتل کې کاغذ و. په کاغذ کې دا پیغام لیکل شوی و. و خلکو! بني ادمانو! مرسته مرسته! زه دلته یم، د سمندر څپو یوې تشې جزیرې ته ټېل وهلی یم. پر ساحل پروت یم. تاسې ته سترګې په لار یم. را وخوځېږئ، بېړه وکړئ، دلته یم، دلته یم. یوه بل ورته وویل: دا پیغام هېڅ نېټه نه لري. اوس به نو ډېره ناوخته وي، له دې پیغام به څومره مودې تېرې شوې وي. دې بوتل به له کومو زمانو پر اوبو غوټې وهلې وي. بل ورته وویل: بله خبره! چېرته؟ په کوم سمندر کې؟ په کومه جزیره کې؟ که تاریخ نوی هم وي، نو ځای چېرته دی؟
بل ورته وویل: نه ناوخته ده او نه هم لرې ده. دلته نږدې یوه جزیره شته. ټول چوپ شول. دا زموږ د حقیقتونو حال دی.»

ویسلا په خپلو اثارو کې دغه ډول وړې ټوټې ډېرې لري، چې لوستونکی حیرانوي او ښکلی پیغام له ځان سره لېږدوي. نوموړې له تنکۍ ځوانۍ د خلکو له فولکلوري ادبیاتو سره مینه لرله او ډېر وخت یې د ټولنې عام او له پامه لوېدلي حقیقتونه په ډېره ښه توګه بیان کړي دي او د لوستونکو پام یې ورته را اړولی دی. نوموړې په ۱۹۵۱ کال کې د خپلو شعرونو لومړنۍ ټولګه چاپ کړه، د دې ټولګې نوم یې (د دې لپاره ژوند کوم) و.

د نوبل تر ګټلو وروسته یې نړیوال شهرت خپل کړ. تر دې مخکې یوازې په خپل هېواد پولنډ کې مشهوره وه او په محلي ورځپاڼو او مجلو کې یې شعرونه خپرېدل، خو نوبل نړۍ ته ور وپېژندله او د نړۍ پر ۳۷ ژبو یې شعرونه وژباړل شول. د شعرونو نسخې او ځینې ټولګې یې په زرګونه ځله چاپ شوې او خپرې شوې دي. لا یې هم د کلونو په تېرېدو شعرونه خپل مینه وال لري. لامل یې هم دا دی چې د ولسونو عام دردونه هغه څه چې نورو وګړو ته عادي ښکاري، خو شیمبورسکا یې را برسېره کوي او تر لوستونکي یې رسوي.

شیمبورسکا ته تر ډېره اخلاق پاله شاعره وایي. په دې مانا چې هغه اخلاقو او په ټولنه کې اخلاقي ژوند ته په خپلو شعرونو او شعري لاره کې لومړیتوب ورکوي. طنز یې په شعرونو کې بل ځانګړی ځای لري. مخکې مو هم په دې اړه یادونه وکړه، چې هغه مسایل په خندنۍ ژبه نقدوي، نه یوازې دا چې جدي شاعري کوي؛ بلکې طنزي ژبه یې هم ادبي پنځونو ته ځانګړی رنګ او خوند ورکوي. د نوموړې شعر ځکه پیاوړی دی چې د پولنډ د هغه مهال په عامو مشاعرو او شعر ځایونو کې به یې نقد او کتنې ته وړاندې کاوه. د پولنډۍ شاعرۍ عام رنګ او جذبه پکې پرته ده، خو خپلې ځانګړنې هم لري، چې تر نورو شاعرانو یې ممتازه کړې ده. په بېلو شعرونو کې انساني دردونو او مسایلو ته خپله ژمنتیا ښیي. انسان او د انسان د ژوند ښه کېدل یې لومړیتوب او سره کرښه ده. هڅه کوي چې انسان یې د شاعرۍ او لیکوالۍ محور وي، د انسان لپاره لیکل وکړي او د بشري ژوند د ښه کېدو لپاره پراخ نظریات وړاندې کړي. نوموړې وایي «ژوند که لنډ وي که اوږد، خو ژوندلیک باید لنډ وي...»

د شیمبورسکا شاعري خپله ځانګړنه لري، د نوموړې څو شعرونه چې په پرله‌پسې توګه ولولی، بیا درته ښکاري چې شعر یې له نورو څومره توپیر لري. د نوموړې په شعر کې هر شی یو شخصیت لرلی شي. هر بې ځانه شي ته روح ورکولی شي او هر بې وجوده شي ته وجود او شخصیت ورکولی شي. نوموړې هر شخصت ته له شاعرانه زاویې ګوري او شاعرانه کلمات ورته کاروي. توکو ته د نوموړې لیدلوری، داسې دی چې فکر کوي غواړي هر څه له سره کشف کړي. هر شته شي کې غواړي نوي کشفیات او نوي جزیات ووینې. مخکې مو هم وویل چې د شاعرۍ بله ځانګړنه یې دا ده، چې د ژوند ورځنۍ چارې یې په شاعرۍ کې ځای پر ځای کړې دي. هغه پېښې چې هره ورځ زموږ د سترګو پر وړاندې رامنځ ته کېږي، له هغو سره سروکار لرو، موږ یې عادي له ځنګه تېرېږو، خو نوموړې یې له ځنګه هسې بې پروا نه تېرېږي، یو څه ترې زده کوي او یو څه پرې زیاتوي او بیا یې په شاعرۍ کې راوړي دي. هغه ځکه د شعرونو او مسایلو وړو جزیاتو ته تللې ده، چې یوه ښځینه شاعره ده. نقادان وایي، هغه ښځینه شاعره وه، ځکه دومره ظریفه هم وه، ځکه یې دقیقو مسایلو ته پام کاوه او ځکه یې ډېرو مسایلو ته له ډېرو دقیقو زاویو او خیالونو کتل.

بالاخره د پولنډ او نړۍ دغه مشهوره لیکواله او شاعره د نوبل تر ګټلو وروسته په ۲۰۱۲ کال کې د فبرورۍ په لومړۍ نېټه د سږي د سرطان له امله مړه شوه. هغه د ژوند تر پایه په همدې کراکوف ښار کې وه. لیکل یې کول، پنځونې یې کولې او له خپل شاعرانه ژوند راضي وه.

همیانی

# د ژوند د بدلون لپاره باید دا نهه پوښتنې له ځان وپوښتئ

ژباړه: حامد احمدزی

ژوند د سترګو په رپ کې تېرېږي، خو کله چې وګورو هغه ځای ته چې موږ ورته د رسېدو هیله لرو، نه وو رسېدلي او هره ورځ لکه د تېرې ورځې په څېر تېرېږي. دا هم ناممکنه ده چې هره ورځ دې بدې پېښې وشي، خو دومره هم په ژوند باوري نه یو لکه څنګه چې باید وي. ځینې وخت ژوره ساه اخلو او د ښو ورځو خوبونه وینو، که غواړې چې ژوند ته مو بدلون ورکړې او د یو خوشحاله ژوند په لټه کې وی، نو دا مطلب تر پایه ولولئ.

ډېر وخت له ځان سره دا فکر کوو چې تر اوسه ژوند لا پاتې دی او هر وخت کولی شو چې ژوند بدل کړو؛ خو بیا هغه ده چې د وخت په تېرېدو سره په لویو ستونزو کې بند پاتې کېږو او بیا له ژوند شکایت کوو. داسې نه ده چې ناڅاپه موږ په دې حالت کې ښکېل شو، داسې حالت په کراری سره پېښېږي او له اصلي لارې موږ منحرف کوي.

دلته دوه انتخابه لرو: که همدا لاره تاکو؛ باید د ژوند لوری بدل کړو. که دویمه لاره ټاکو، کولی شو دا لاره په څو پوښتنو کې را لنډه کړو. د دې مطلب په لوستو سره په جادویي ډول ستاسو ژوند بدلون نه کوي، خو د بدلون لپاره ښه پیل دی.

**۱- اوسنی دندې مو پر ژوند څه اغېز کړی؟**

د پیسو ګټلو میتود بې له شکه مهم دی. وخت د انسان تر ټولو ارزښتمنه پانګه ده. نو زموږ دنده مهمه ده، ځکه چې موږ خپل ډېر وخت په دنده او کار کې تېروو. زه په دې باور نه لرم چې یو څوک دې له خپلې دندې سره زیاته مینه ولري؛ خو دا باور لرم چې له هدف پرته کار کول په هېڅ وجه زموږ په ګټه نه دي. که دنده مو روحاً نا ارامه کوي، نو اغېز به یې د ژوند په نورو برخو کې هم احساس شي. ستاسو د دندې او ستاسو اصلي ارزښتونو تر منځ د پام وړ فاصله د غور کول دي. خپل حالت ته مو وګورئ. ایا نورو دفترونو یا کار ځایونو کې کار کول به ستاسو پر وضعیت مثبت اغېز ولري؟ ایا تاسو اړتیا لرئ چې خپله دنده پرېږدئ او له سره پیل وکړئ؟ ایا تاسو کولی شئ خپلو زده کړو ته دوام ورکړئ؟ کوم ډول انتخابونه مو په مخکې دي؟

**۲- ستاسو روغتیایي وضعیت پر حالاتو څه اغېز لري؟**

منظم خواړه او ورزش کول مو زیاتې ستونزې له منځه وړي، خو موږ بر عکس نورو شیانو ته مخه کوو. که بدن مو سالم نه وي، ذهن به مو هم اراموالی له لاسه ورکړي. موږ نشو کولی چې بدن او دماغ سره بېل کړو. جسمي فعالیت د ډېرو روحي ستونزو په له منځه وړلو کې مهم رول لري. د خپګان مخالف خوښي نه ده؛ بلکې حرکت دی. ایا د ذهن ارامتیا مو د بدن په ارامتیا پورې اړه لري؟ ممکن ځواب مو هو وي. له ځانه وپوښتئ چې د خپلې روغتیا د ښه کولو لپاره څه کولی شئ؟ له کوچنیو ګامونو څخه پیل وکړئ.

**۳- وروستی ځل مو خپله خوندي سیمه کله پرېښوده؟**

ایا تاسو له خپل عادي ورځني ژوند څخه بهر کوم کار کوئ؟ وروستی ځل مو کله د نوي مهارت د زده کولو هڅه وکړه؟ وروستی ځل کله و چې تاسو پرېکړه وکړه او ومو ویل چې غواړئ څه تر لاسه کړئ؟ موږ یوه معقوله لرو (احتیاط تر پښېمانۍ بهتره دی) دا سمه ده چې ډېری کسان به له دندې زړه توري وي، خو دا فکر هم باید وکړو چې راتلونکې کې به له کومو کارونو سره سروکار ولرو.

**۴- څه به پېښ شي که په همدې ډول ژوند ته دوام ورکړئ؟**

که ژوند ته مو په همدې شکل دوام ورکړئ، له ۵، ۱۰ او یا هم ۲۰ کلونو وروسته به ستاسې ژوند څنګه وي؟ ایا هغه څه چې وینئ، خوښېږي مو؟ موږ په ساده ډول هره ورځ خپل کارونه تر سره کوو او راتلونکی مو له یاده وځي. هر کله چې ممکن و، راتلونکی ژوند تصور کړئ او په یاد یې راوړئ چې ولې غواړئ دغه کار تر سره کړئ. هر کله مو چې دا احساس وکړ چې ولې غواړئ خپله دنده په ښه ډول تر سره کړئ، کله چې د خپلو موخو لپاره سخت کار وکړئ او حالات سم نه وو او زړه مو له خپګان سره مخ کېږي، نو هڅه وکړئ چې راتلونکی مو په خپل ذهن کې تجسم کړئ.

**۵- ایا له خپلو وړتیاوو مو ګټه اخیستې؟**

تاسې کومې وړتیاوې لرئ؟ ستاسو وړتیاوې او استعدادونه کوم دي؟ څومره مو له دې وړتیاوو څخه ګټه اخیستې ده؟ ایا تاسې د خپلې وړتیا پر اساس خپل مسلک د ځان لپاره ټاکلی؟ په هغه څه کې چې مهارت لرو، ښه ده چې یوه دنده ولرو. کله چې داسې نه وي، دوې ستونزې رامنځته کېږي: لومړی؛ زموږ د کار کیفیت خرابېږي او دویم دا چې موږ به خوښ نه یو؛ ځکه چې زموږ دنده به زموږ د وړتیا پر اساس نه وي انتخاب شوې. دا حقیقت دی چې د پیسو ګټلو لپاره باید ډېر کار وکړو؛ خو د هغو کارونو هڅه کول چې موږ یې باید په منظم ډول تر سره نه کړو یا تر سره کول دومره مهم نه دي، موږ ته زیان رسوي او په اوږدمهال کې زموږ رواني روغتیا له خطر سره مخ کوي او هغه ده چې له خپلو لویو موخو به لرې پاتې وو.

**۶- له کومو شیانو کرکه لرئ؟**

د هغو شیانو پېژندل چې موږ ورسره مینه لرو، ممکن اسانه نه وي. خو برعکس، د هغو شیانو پېژندل اسانه دي چې موږ یې نه خوښوو او مخنیوی یې کوو. دا به ښه وي چې په ژوند کې هغه څه چې نه خوښوو، له مخې یې لرې کړو. زیاتره خلک هغه څه چې نه یې خوښېږي، ځان ترې لرې ساتي څو هغه څه ته ځان ورسوي، چې خوښېږي یې. پخوا مې یوه دنده درلوده چې هېڅ ترې خوښ نه وم، له شپږو میاشتو وروسته مې استعفا ورکړه، ځکه پوهېدم چې په رواني لحاظ ترې خوښ نه وم. رښتیا؛ له هغه څه چې نفرت لرئ، په هېڅ وجه د خپل ژوند یوه شېبه هم مه ورکوئ. په هرحال، ډېری خلک همداسې دي.

**۷- که د ژوند کولو شپږ میاشتې مو پاتې وي، څه پکې کوئ؟**

همدا اوس کولی شئ ژوند په هغو کارونو سره تېر کړئ چې خوښېږي مو. که له لیکلو سره مینه لرئ، لیکل وکړئ. که غواړئ چې یو څه یاد کړئ، نو د یادولو هڅه وکړئ. زه له خپلې کورنۍ سره مینه لرم، که زیاتې پیسې ولرم، ممکن سفر وکړم او له هغو کسانو سره وخت تېر کړم چې مینه ورسره لرم او په داسې کار ځان مصروف کړم چې خوښېږي مې. زه همدا اوس خپلې هیلې ته رسېدلی یم. زه له هغه څه څخه پیسې ګټم چې مینه ورسره لرم. خو زه لا دې لوړې څوکې ته پوره نه یم رسېدلی چې ووایم، که سبا مړ شم، دا خو له ځان سره وایم چې خپله هڅه خو مې وکړه.

که تاسو ته وویل شي چې ژوند مو پای ته رسیدلی، رښتیا ووایئ، تاسې به کرار کېښنی او که به ټول هغه کارونه تر سره کړئ چې تاسې ته مهم دي؟ رښتیا تاسې به ټول هغه کارونه تر سره کړئ چې تاسې ته مهم دي. د خپلو دوستانو کره لاړ شئ او تر هغه پورې چې کولی شئ له دوی سره پاتې شئ. تاسو باید له هرڅه مخکې په دې اړه فکر وکړئ چې څه تاسې ته مهم دي. له چوپتیا څخه د وتلو یوه غوره لار د خپلو لومړیتوبونو یادول دي، چې باید له هرڅه مخکې هغه ته د رسېدو په اړه فکر وکړو.

**۸- له څه شي وېره لرئ؟**

زه له چل او فریب څخه وېره لرم، له خجالت کېدو څخه وېره لرم، له بې باورۍ څخه وېره لرم، له خطر منلو څخه وېره لرم. تاسې څنګه؟ موږ کیدای شي د دې لاملونو له امله بدلون او نوښت خوښ نه کړو؛ خو دا ویلی شو چې موږ انسانان یو او انسان معمولاً له داسې حالتونو وېرېږي. په دنیا کې دوه ډوله خلک ژوند کوي: هغه خلک چې له وېرو سره مخ وي او دویم هغه خلک چې له وېرې تښتي. د دې ډول خلکو د ژوند کیفیت ځمکه او اسمان توپیر لري! موږ د وېرې لپاره یو څه لرو، د وېرې لپاره جرئت او د پرمختګ لپاره هڅه کول پکار دي.

ایا هغه څه چې تاسو ترې وېرېږئ، دا مو په ذهن کې رامنځته شوی حالت دی او که حقیقي بڼه لري؟ ایا ستاسې شاوخوا کسانو هم ستاسې په څېر ماتې او ناکامۍ تجربه کړې دي؟ که دوی هم دا لوړې ژورې لیدلې وي او بیا دې ځای ته رسېدلي وي؛ بې له شکه چې تاسې به یې هم تجربه کوئ او بیا به خپلو موخو ته رسېږئ.

**۹- لومړنی ګام به مو څه وي؟**

ښه دا ده چې د غوره ژوند په لور یو کوچنی ګام پورته کړئ. په دې وروستیو کې د اردن پیټرسن د ژوند ۱۲ قواعدو له لوستلو وروسته مې پرېکړه وکړه چې د خپلې خونې د پاک ساتلو لپاره باید یولړ اصول ولرم. دا په دې مانا تر هغه چې ځان بدل نه کړئ؛ نړۍ نه شي بدلولی. زه په ډېرو لارو کې یو بریالی او موثر شخص یم، خو زه په خپل ژوند کې لا ډېر نظم ته اړتیا لرم. ځکه چې زما ګډوډي زما د ډېرو ستونزو لامل کېږي. دا اوږده مبارزه ده چې باید په نیمه لار کې یې پرې نږدو. د خپلې خونې له پاک ساتلو یې پیل کړئ، دا یو کوچنی ګام دی؛ خو تاسو ته به د لا نور پرمختګ لپاره لار پرانیزي. هغه کوچني کارونه چې موږ یې کوو، په اوږدمهال کې زموږ ژوند بدلوي.

## اورنګزېب: د ټاکنو اصلاحي طرحه تر ژورو بدلونو وروسته عدلیې وزارت ته ولېږل شوه

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، چې د ټاکنو اصلاحي طرحه یې چې پکې اساسي بدلونونه راوستل شوي، عدلیې وزارت ته استولې ده. د دغه کمېسیون رییس اورنګزیب خبریالانو ته ویلي، چې د بربښنایي تذکرې په اساس د رایې ورکوونکو د نوملړ جوړولو لپاره د تدابیرو نیول، د مالي او اجرایي خپلواکۍ لپاره د کرنلارو جوړول، د یوه دایمي بهیر په توګه د ټاکنو په اړه روزنه او عامه پوهاوی د ټاکنو د قانون د نوې طرحې عمده برخې دي. اورنګزیب دغه راز ویلي، چې د قانون په نوې طرحه کې د ولسي جرګې د ټاکنو سیستم هم د (MDR) سیستم ته بدل شوی دی. هغه زیاته کړې، که ټاکل شوې وي چې د ولایتي شوراګانو او د ولسوالیو شوراګانو ټاکنې د نوي سیستم په اساس وشي، د ټاکنو د کمېسیون حقوقي څانګه به د عدلیې وزارت په همکارۍ د قانون په دې ماده کې هم بدلون راولي. د دې طرحې په اساس ګوندونه، سیاسي ائتلافونه او نوماندان کولی شي، چې د رایې ورکوونکو شرایط او نوملړ د ټاکنو کمېسیون ته وړاندې کړي. ټاکل شوې چې دغه طرحه په عدلیې وزارت کې له تدقیق وروسته د کابینې تایید او بیا د ولسي جرګې تصویب ته وړاندې شي. په ورته مهال ولسمشرۍ ماڼۍ بیا ویلي چې د ۱۴۰۰ لمریز کال په دوبي کې به د غزني د ولسي جرګې، ولایتي شوراګانو، ښاروالیو او ولسوالیو شوراګانو د ټاکنو له شمېرې یوه یې ترسره شي. د ټاکنو د کمېسیون مرستیال مولانا عبدالله ویلي، چې د دغو ټاکنو د ترسره کولو لپاره عملیاتي پلانونه، مهالوېش او د بودجې طرحه چمتو شوې، خو تراوسه افغان حکومت د امنیت د خوندیتوب او بودجې په تړاو کمېسیون ته وروستی ځواب نه دی ورکړی. هغه زیاته کړې: «هرکله چې دغه دوه فکتورونه د دولت او نړیوالو مرستندویو بنسټونو له خوا چمتو شي، موږ حاضر یو چې د ټاکنو نېټه او مهالوېش اعلان کړو».

## خلیلزاد له پاکستاني چارواکو سره د افغان سولې پر نوې طرحې خبرې کړې

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد اسلام اباد ته رسېدلی او له پاکستاني چارواکو سره یې د افغان سولې په تړاو خبرې کړې دي. دا د امریکا نوي ولسمشر جو بایډن په واکمنۍ کې اسلام اباد ته د خلیلزاد لومړی سفر دی.

خلیلزاد اسلام اباد ته له رسېدو سره سم د پاکستان د پوځ له مشر جنرال قمر جاوید باجوه او د دغه هېواد د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمود قریشي سره لیدلي دي. په اسلام اباد کې ځایي خبریال طاهر خان وایي، زلمي خلیلزاد په دې کتنه کې په افغانستان کې د سولې او سیاسي جوړجاړي لپاره د امریکا نوې طرحه هم له پاکستاني چارواکو سره شریکه کړې ده.

تر دې مهاله په ښکاره توګه کوم بل هېواد د افغان سولې په تړاو د امریکا وروستۍ طرحې ته کوم غبرګون نه دی ښودلی، خو په کابل کې د اروپایي ټولنې استازي رولانډ کوبیا بیا پر خپله ټوېټرپاڼه لیکلي وو چې په افغانستان کې د اساسي قانون له مخې ټاکنې شوې او د نړیوالې ټولنې لویه برخه د افغانستان اسلامي جمهوریت ملاتړ کوي.

بلخوا د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویلي، امریکا له دغه هېواد سره د افغان سولې په اړه د کومې غونډې موضوع نه ده شریکه کړې. ایران وروسته له هغې دا خبره کوي، چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن افغان ولسمشر اشرف غني ته په یوه لیک کې ویلي وو، چې ډېر ژر به د افغان سولې په تړاو د سیمې د هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو او نورو استازو غونډه رابولي. بلېنکن په دې لیک کې ویلي، په دې غونډه کې به پر امریکا سربېره د چین، ورسیې، هند، پاکستان او ایران استازي ګډون کوي.

خو د ایران د بهرنیو چارو وزارت وياند سعید خطیب زاده په تهران کې یوې خبري ناستې ته ویلي چې په دې اړه لا د امریکا له‌خوا کومه بلنه نه ده ورکړل شوې، او کله چې بلنلیک ور ورسېد، نو دوی به پرې غور کوي.

اقتصاد

**د اسعارو بیې**

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۵۵ |
| € | ۹۲,٤ |
| Rp. | ٤٨٦ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰٦,۲ |

**بیړنۍ شمېرې**

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶

۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کيفيت او چټک خدمات په
وايګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د کب ۱۹مه | د ۲۰۲۱ د مارچ نهمه | ٦۹۳یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | ۲۳ | ۱۶ | ۲۱ | ۲۳ |
| ۵ | ۶ | ۸ | ۱۰ | ۱۴ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٥۰ | لمر ختل ۰٦:۱۳ | ماسپښين ۱۲:۰٥ | مازيګر ۰٤:۱٤ | ماښام ۰٥:٥٦ | ماخوستن ۰۷:۱٥

## نړۍ



## ويرتومر هوچي: د روسيې جوړ شوی واکسين خطرناک دی، اروپايي هېوادونه دې يې نه تطبيقوي

۳

## اتمر: اجماع منطقه‌یی برای روند صلح افغانستان هنوز هم پابرجاست



محمدحنیف اتمر، وزیر خارجه دیروز در برنامهٔ حساب‌دهی دولت به ملت در کابل گفت که اجماع منطقه‌یی برای روند صلح پابرجاست و هیچ کشوری حاضر نیست رژیم طالبان دوباره برگردد.
به گفتهٔ وزیر خارجه، کشورهای منطقه و جامعهٔ بین‌المللی مخالف امارت اسلامی طالبان و طرف‌دار نظام جمهوریت‌اند؛ زیرا جمهوریت نه‌تنها یک ارزش برای جهانیان است، بل‌که به نفع دنیاست.
محمدحنیف اتمر می‌گوید: «کشورها برگشت رژیم طالبان را به هر عنوانی که باشد، نمی‌پذیرند. در منطقه و جهان یک اجماع قوی منطقه‌یی وجود دارد. در دنیا و جهان این اجماع وجود دارد. حفظ نظام جمهوری اسلامی افغانستان نه‌تنها که ارزشی است؛ بل‌که به نفع همه است. ما دو اساس بسیار قایم داریم.»
آقای اتمر می‌افزاید که مأموریت نخست وزارت خارجه، آوردن صلح و ختم جنگ در کشور است. به گفتهٔ او، ۱۵ کشور اسلامی جنگ کنونی افغانستان را حرام خوانده‌اند.
وزیر خارجه نیز می‌گوید که در دیپلماسی‌های اقتصادی، انرژی، تجارت و سرمایه‌گذاری و دیپلماسی جلب کمک‌های خارجی برای افغانستان، دستاوردهای قابل ملاحظه‌یی داشته است.

## استین: امريکا به د خپلو ګټو د دفاع لپاره هر اړين اقدام وکړي



د امريکا د متحده ايالتونو دفاع وزير لويډ استين وايي چې هېواد به يې د خپلو ګټو د دفاع لپاره هر لازم اقدام وکړي.
نوموړي وروسته له هغې دا څرګندونې کړي، چې د عراق عين‌الاسد پوځي اډې ته څېرمه پر امريکايي اهدافو بريدونه ډېر شوي دي. په دغه پوځي اډه کې د عراقي ځواکونو ترڅنګ د ائتلاف او امريکا پوځيان هم دېره دي.
د امريکا دفاع وزير استين له «ABC» ټلوېزيون سره په مرکه کې چې ويلي، امريکا له عراقه غواړي چې دغه پېښه په جديت وڅېړي او معلومه کړي چې د دې پېښې مسوول څوک دي.
وروسته له هغې چې د امريکا په يوه هوايي بريد کې د ۲۰۲۰ز کال د جنورۍ مياشتې پر دريمه د عراق پلازمېنې بغداد ته څېرمه د ايران د سپاه پاسداران د قدس ځواک قوماندان قاسم سليماني ووژل شو، ايران د دغې وژنې د غچ اخيستو خبرداری ورکړی و.
له هغې وروسته په پرله پسې توګه په عراق کې پر امريکايي اهدافو بريدونه کېږي، چې مالي زيانونو سربېره پکې ځاني زيانونه هم اوښتي دي.
امريکا وايي چې دغه بريدونه د هغو ملېشو له خوا کېږي، چې ايران يې ملاتړ کوي، خو ايران بيا د امريکا دغه تورونه رد کړي دي.

## راپورونه: په ميانمار کې د پوليسو او لاريونوالو په تازه نښتو کې ګڼو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتي




د راپورونو له مخې، په ميانمار کې امنيتي ځواکونو بيا د کودتا پر ضد لاريونوالو وژونکې ګولۍ کارولي او لږترلږه دوه تنه يې وژلي او ګڼ نور يې ټپيان کړي دي.
د دغه هېواد د پوځي واکمنانو پر وړاندې د خلکو د پاڅون په ترڅ کې په دويم لوی ښار يانګون کې دوکانونه، فابريکې او بانکونه تړل شوي دي.
په ټولنيزو رسنيو کې په خپرو شويو وېډيوګانو کې ښکاري، چې د دوو تنو مړي په شمالي ښار ماياتکيانا کې پر سړک پراته دي. عيني شاهدانو ويلي چې دوی په هغو اعتراضونو کې ګډون کړی، چې پوليسو يې د تيت او پرک کولو لپاره د بې‌سده کولو له لاسي بمونو او اوښکې بهوونکي ګاز څخه کار واخيست، وروسته‌يې له نږدې ودانيو پر معترضانو ډزې وکړې چې يو شمېر يې ولګېدل.
د يادونې ده، کله چې د تېرې فبرورۍ مياشتې په لومړۍ نېټه په ميانمار کې پوځ کودتا وکړه او د دغه هېواد د ملکي حکومت مشره انګ سان سوچي او يو شمېر نور مشران يې په کور کې نظربند کړي يا نيولي، په دغه هېواد کې د پوځيانو پر ضد نږدې هره ورځ لاريونونه کېږي. ويل کېږي، چې د دغو لاريونونو په ترڅ کې له ۵۰ زيات معترضان وژل شوي او په سلګونه نور نيول شوي دي.

عزيزي بانک
Azizi Bank

## د عزيزي بانک او د افغانستان کرېډټ تضمين بنسټ (ACGF) د هوکړه ليک لاسليک

په خورا خوښۍ تاسو ته خبر درکوو چې عزيزي بانک د افغانستان کرېډټ تضمين بنسټ سره د ۲۰۲۱ کال د فبرورۍ مياشتې په ۲۴مه د هوکړه ليک لاسليک وروسته، کوچنيو-منځنيو شرکتونو ته د کرېډټ تضمين او تخنيکي مرستو په برخه کې د (ACGF) سره خپله ملګرتيا او همکاري پيل کړه. د ACGF موخه خصوصي مالي بنسټونو ته لکه بانکونو او نورو مالي برخو ته د تخنيکي مرستو د چمتو کولو له لارې په افغانستان کې د MSME تمويل دلاسرسي ښه کول دي.
د عزيزي بانک د شهرت او په بازار کې د پراخه شتون پر اساس، دغه تړونونه په افغانستان کې د کوچنيو او منځنيو-کوچنيو سوداګريو لپاره مالي مرستو ته د لاسرسي په برخه کې د دواړو بنسټونو ترمنځ راتلونکو همکاريو ته زمينه برابروي.
ACGF په ۲۰۱۴ کال کې د المان د شمالي راين ويستفاليا ايالت د قانون سره سم د خيريه بنسټ په توګه راجستر شوی او د آلمان فدرالي حکومت داستازی په توګه بلل کيږي. د افغانستان حکومت چې د نړيوال بانک لخوا يې ملاتړ کيږي د ACGF کليدي غړی دی. ACGF د ۲۰۱۸ راهيسې د آلمان د ټولنو او د تضمين بنسټونو نړيوالې شبکې رسمي غړيتوب لري.
دغه مراسم د کرونا ناروغۍ له امله په آنلاين توګه ترسره شول چې د دواړو خواوو څخه د مشرتابه لوړ پوړو غړو چې مشري يې ښاغلي برنډ ليډنر او ښاغلي ډيريک جوزف تايسن او د ACGF د آلمان دفتر ټيم غړو او همداراز د عزيزي بانک اجرايوي رييس ښاغلي ډاکټر محمد سالم اميد او مشرتابه به پلاوي د لاسليک په مراسمو کې حضور درلود. د دواړو ACGF او عزيزي بانک چارواکو د دغه تاريخي هوکړه ليک ستاينه وکړه او زياته يې کړه چې دا به په هيواد د MSME سکتور جوړولو او برياليتوب په برخه کې خورا مهم رول ولوبوي.
عزيزي بانک په افغانستان کې يو له ترټولو لوی سوداګريزو بانکونو څخه دی چې په ۲۰۰٦ کې تاسيس شوی او دا مهال په ۳۲ولايتونو کې ۸۰ څانګې او ۱۰۱ د صرافۍ خپلکاره ماشينونه لري چې له يوه ميليون څخه زياتو پېرودونکو ته بانکی خدمتونه وړاندې کوي.




د زده کونکو/زده کړيالانو جاري حساب
عزيزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړيالانو ته د وړيا ای تي ام کارت او په کلنۍ فيس کې د ماستر ډبټ کارت تخفيف سره چمتو شوی دی.
www.azizibank.af
1515
عزيزي بانک
Azizi Bank